داکتر اجرالدین حشمت



# از جنبش مشروطه تا دولت مشروطه در افغانستان

**داکتر نثار احمد صمد**

لنډ ه یادونه

« ازجنبش مشروطه تا دولت مشروطه در افغانستان » هغه علمي اثردي چي ښاغلي ډاکټر اجرالدین حشمت لیکلي او دادي خپریږي .

زه « نثار احمد صمد» د ښاغلي ډاکټر حشمت څخه ډیر ممنون یم چي خپل دغه عالمانه اثریي مخکي له چاپه زما تر نظر تیر کړ . زه نه تاریخپوه یم ، نه مسلکي لیکوال او نه هم د دغسي اکاډمیك آثارو ارزونکي ، بلکي صرف او صرف یو عادي لیکوال او اماتور مبصر یم او بس. خو دا چي ډاکټر صاحب حشمت زما د امتناع سره سره دیر ټینګار وکړ چي باید هرو مرو هغه ولولم او څه پري ولیکم نوزه هم د مشروطه غوښتونکي تحریك د مؤسس او مشر « مولوي محمد سرور واصف » د لمسي په توګه مجبور سوم چي ددي جامع اثر په هکله څو کرښي ولیکم.

خبره خو داده چي پدي کتاب کي د افغانستان د معاصر تاریخ پریو تیاره فصل باندي کافي رڼا اچول سوي چي هغه د مشروطه غوښتونکي جنبش څیرنه ، د هغه د مخکښانو او غړو را پیژندنه او د هغوي هیواد پاله مبارزه او بالاخره ددي تحریك د تکوین اوتکمیل څرنګوال او د زوال عوامل په برکي نیسي .

مشروطه غوښتونکي جنبش اصلا" د نولسمي پيړۍ په دوهمه نيمايي کي د هيواد د څو پړله پسي لسيزو د سپمايزه او ټولنيزه بي عدالتيو غبرګون و چي د شلمي پيړۍ په لومړيو کي بريمن سو ، خو دغه برئ صرف لس کاله وپائيد او بس مشروطه غورځنګ د وخت او زمان په يوه ټاکلي موده کي ظهور وکړ چي د افغانستان په معاصر تاريخ کي د ملي وحدت سمبول او د سياسي ويښتيا څراغ ثابت سوي دي ، هغسي يو څراغ چي پر ځان يي تياره خو نوريي رڼا کړل مطلب دا چي ځان يي وران خو نوريي ودان کړل .

دغه تحريك خورا لنډ عمر درلود مګر اهميت يي تلپاته دي . د همدي ملي غورځنګ د هلو ځلو او سربښندنو د اغيزو په بهير کي د افغانستان سياسي خپلواکي وګټل سوه ، يو مشروطه دولت يي مستقر کړ ، سيمي ( خصوصا" د هند نيمي وچي ) ته يي سياسي خو ځښت ورکړ څو چي د هند او پاکستان آزادي يي ګړندۍ کړه خو پخپله د لويو توطئو او معاملو ښکار سو .

د امير حبيب الله خان د سلطنت پر مهال د افغانستان خلك د ټولنيزي وضعي د مقتضياتو سره سم د ليري او نږدي پرمختيا وو او بدلونونو د ليدو يا اوريدو په وجه راويښيدل ددي ويښتيا مخکښان هماغه هيواد پال روښانفکران ول چي د يو ټاکلي فکري خوځښت او ډله ييزه جوړښتون بنسټ يي کښيښود.ددي متفکرو مغزونو او هيواد پالو ځوانانو سروال شهيد مولوي محمد سرور واصف و چي د مشروطه غوښتونکي تحريك بنسټ يي کښيښود او په سلګونو پوه او منور ځوانان يي پدي مترقي غورځنګ کي سره متشکل کړل.

ددي نهضت مرام د سياسي استقلال ګټل ، د مشروطه يعني پارلماني شاهي دولت استقرارول او د قانون واکمنول و چي په مناسب ترين وخت کي بهترين انتخاب و . دغه تحريك د سراجيه عصر په ټولنيز او سياسي ژوندانه کي خورا مهم رول ولوباوه . هغه مهال ډير حساس و او هيواد د لويو توطئو او معاملو پر ناولي دام باندي طواف کاوه ددي اساسي اړتيا وو درك وچي دواکمن استبداد په بطن کي مشروطه غورځنګ تشکيل او تکميل سو . ولي هرځل چي افغان ولس د هيواد د خاوري د دفاع يا خپلواکۍ او يا هم مشروطه غوښتني لپاره اقدام او قيام کړي نود هغوي د پاڅون او خلاصون يا بريو او خوښيو څخه د وخت واکمنو د خپلو نفساني هوسونو خيټه ډکه کړي او دا هر څه يي د پرديو سره د خپلو سوداينو قرباني کړي دي .

تجربو ښودلي چي يو تحريك يا يو ګوند بايد ترهرڅه مخکي په ټولنه کي خپله پرګنيزه پايګا ه ولري . هرڅومره چي دغسي تحريك په ټولنه کي د ننه وي په هغه اندازه به ساتلي او ژغورلي وي او تلپاته بقا او حيات به ولري .

همدغه تريخ حقيقت د مشروطه غورځنګ د حيات او ممات پر بهير باندي هم پوره اطلاق درلود . لکه څنګه چي دغه تحريك يوازي او يوازي پر روښانفکرانو او منورينو باندي تکيه و ، عوامو او ملت ته په اغيزمنه او ګړندۍ توګه ور انتقال نه سو . عامه ذهنيت پر مخ نه تللي ، فساد او عناد په اوج کي و ، خلك د قانون ، دموکراسي او مشروطيت سره روږد نه ول نو ځکه يي هغه ښه نسو درك کولاي څو چي د هغه وړانګي هم يوازي او يوازي په روشنفکري ساحه کي محدودي پاته سوي او په نتيجه کي صرف په کابل کي يو څه محسوس و او نورو ښارونه ته ور تير نسو چي دي کار د نهضت کمزوري او نسکوري هم را ګړندۍ کړه . خو برتانوي استعمار ، سراجيه فشار او جاسوسي آثار نور هغه عوامل وو چي د مشروطه غورځنګ د پښو پيکړي سول اوهغه يي راغوځار کړ .

لدي نه علاوه ، د نهضت د مشرانو او مخکښانو بي تجربه ګي ، نابلدي او بالاخره د هغوي بي احتياطي يا په بله ژبه بي باکي ددي موجب سول چي غورځنګ لنډ عمر ولري ، ستري قربانۍ ورکړي او مشران يي اعدام يا بندي سي (پدي سربښند نوکي زما خپل څلور نيکه ګان هم شامل دي لکه مولوي محمد سرور واصف ، د هغه ورور سعدالله

خان الکوزي ، د هغه د اکا زوي عبدالقیوم خان الکوزي و بالاخره د هغه اکا یعني عبدالرحمن خان چي لومړني دري اعدام سول خو څلورم یي په جیل کي وفات سو ، الله دي هغوي او نور ټول وبخشي . )

په هرصورت ، مشروطه غورځنګ افغانستان ته د سیاسي مفکوري ، سیاسي مبارزي تلوسي شګوفه راوړه او کیداي سي ووایو چي دا غورځنګ پخپله د افغاني ټولني د ملي – دموکراتیك جوړښت یوه شکوفه وه چي پخپله ډیره ډیرښکلي اومعطره وه مګر ژوندي لنډ او د پسرلي زیري راوړنکۍ ثابته سوه . خودا تریخ حقیقت هم باید مد نظر ولروچي په افغانستان کي له بده مرغه اکثریت واکمنانو لومړي سیاسي واك غلا کړي او بیا واکمن سوي دي . نو ځکه دلته عموما" د « رهبري کولو میراث » تل په استبدادي عنعنه سره عملي سوي چي هغه کله شاهي استبداد ، کله فردي استبداد او کله هم دا یا هغه استبداد وي چي سراجیه استبداد هم لدي جملي نه ګڼل کیږي چي مشروطه غورځنګ یي وخوړ .

د پورته ټول بیان څخه مي هدف دادئ چي دا ټوله خواږه او ترخه حقایق ، دا ټوله مبارزي او خولي او بالاخره دا ټوله نوښتونه او مصیبتونه یا په بله ژبه دا ټولي کامیابی او قربانۍ هغه ملي ارزښتونه دي چي ډاکترحشمت په خورا تدبر او تبحر سره پدي کتاب کي څیړلي دي . ددي مستند اثر یو غوره والي هم دادي چي د مشروطه غورځنګ ابتدا او انتها مفصلا" څیړي او هیله ده چي ددي اثر هره برخه به د مغزو تاریخ څیړنکو د کره کتني او پوره پاملرني وړ وګرځي . کتاب د سراجیه عصر ډیر نا خوالي او د هغوي په بطن کي ددي تحریك د تکوین او تکمیل بهیر کام په ګام څیړي .

د کتاب د متن جملي ، روان او سیاق په لوړو ادبیاتو بنا دي چي دا دلیکوال پوخ ادبي ظرفیت ثابتوي . ده الفاظ او حروف داسي سره پییلي ته به وایي چي یو تاریخي متن یي د انجینیري په فورمولونو او معادلو کي منظما" اوډلي او یو شکلي رنك یي ورکړي دئ .

« از جنبش مشروطه تا دولت مشروطه در افغانستان » هغه کتاب دي چي دګڼو اخځونو څخه تهیه او ترتیب سوي او پدي اړه لومړني اثر دي چي د مشروطه غورځنګ د فعالینوڅخه مستقیم قولونه یا اقتباسونه نلري بلکه صرف او صرف د مطبوعه مآخذونو څخه استفاده پکښي سوي نو ځکه باید له خورا احتیاط څخه کار واخستل سي او تر وسه وسه د ځاني نظر ، ځاني حکم او ځاني قضاوت څخه ډډه وسي چي زه دا ټکي پیاوړو او ملي تاریخپوهانو ته پریږدم . او دا هغه څه دئ چي ما دلته څه نا څه مشاهده کړ .

بل دا چي پدي ګټور کتاب کي د افغان مشروطه تحریك په اړه هیح خارجي آثارو څخه استفاده نده سوي ، که وي نو هغه صرف دري یا فارسي ژباړي دي او بس. حال دا چي باید دا کار سوي واي .

دریم دا چي پدي کتاب کي د خورا مستند و او معتبرو ماخذونه څخه نیولي تر خورا ضعیفه یا کمزوره ماخذونه پوري استفاده سوي ده چي اړونده کره کتني مسلکي تاریخپوهانو ته پریږدم .

څلورم دا چي ما د کتاب په ځینو برخوکي د شاغلي او پیاوري کیکوال ځاني نظر ، ځاني قضاوت او حتي ځاني فتوا هم مشاهده کړي چي خصوصا" نادرخان ، د هغه قاتل ، د پښتو ژبي محلي کنل یا د فارسي ژبي رسمي او ملي بلل ، نادرخان د دوهمي مشروطه په لړکي راورل او څیرل او نور په برکي نیسي .

هو ګرانه لوستوکي ، څومره چي یو علمي اثر په کره کتنه سره ولوستل په هغه اندازه به د اثر مؤثقیت ، استناد ، اعتبار او سوچه توب وبریښي او په ورپسي چاپ کي به د نور سمون او ممنون وړ وګرځي .

زما ګران دوست ښاغلي ډاکتر حشمت یو تکړه ډاکتر دي خو ددي علمي اثر په تهیه او ترتیب کي یي لوي زحمت ګاللي او هیله ده چي خپل دغسي نوښتګر بهیر ته پایښت پسي ورکړي او پدي توګه افغاني ټولني ته د نورو

خدمتونوباعث هم وګرځي . ده پدې توګه د مشروطه غورځنګ د مبارزو قدر کړي اود هغه مشرانو (منجمله زماڅلورونیکونو ) د سربښند نو حق يې ادا کړي دي .

زه ډاکټر حشمت ته ددې عالمانه تحقيق له کبله د زړه له اخلاصه مبارکي وايم او ګران لوستونکي ددې غوره اثر لوستو ته رابولم .

الله دې د ليکوال پر قلم صحت او پر صحت يې برکت کښيږدي .

والسلام

د هيواد په درد درد من

آن عده از هموطنانی که خواسته باشند کتاب را خرید نمایند می توانند به آدرس ذیل تماس بگیرند:


**Dr. Ajruddin Hashmat**
**97 Forest Heights Str.**
**Whitby, Ont.  L1R 1x7. Canada**
**Tel (905) 665-8767**